د معاملاتو شرعي بنسټونه

(هغه شرعي آداب او بنسټونه چې پېژندل يې پر هر تجار واجب دي)

تألیف

آن لاین اسلامي لارښود

www.dawat610.com

د معاملاتو شرعي بنسټونه

(هغه شرعي آداب او بنسټونه چې پېژندل يې پر هر تجار واجب دي)

تأليف

آن لاين اسلامي لارښود

www.dawat610.com

د موضوعاتو لړليک

لومړۍ برخه

تجارت پيژندنه

د تجارت فضيلت

د امين او صادق تجار فضيلت

په تجارت کې د خيانت بد عواقب (پايلې)

د مسلمان تجار او کاسب آداب

دوهمه برخه

د معاملاتو او تجارت شرعي بنسټونه

اول بنسټ جنس يا مال او قيمت به حلال وي

دوهم بنسټ خپل منځي رضامندي

دريم بنسټ د ظلم حرمت

څلورم بنسټ ، دين ، عقل او سر مال ته به ضرر نه وي

پنځم : په معاملاتو کې غُرر منع دی

شپږم بنسټ ، عقل او تميز

اوم بنسټ سود حرام دی

آتم بنسټ ، په معاملاتو کې جواري يا قمار حرام دی

نهم بنسټ ، د احتکار حرمت

تجارت

د تجارت تعريف :

تجارت په لغت کې ګټې ته وايي ، تجارت ته په شريعت کې بيع هم وايي ، بيع په لغت کې تبادلې (د مال راکړې ورکړې) ته وايي.

د شريعت په اصطلاح کې په حلاله طريقه او د طرفينو په رضامندۍ خرڅولو او اخيستلو يا معاملاتو ته تجارت وايي.

د تجارت فضيلت :

د تجارت د فضيلت د پاره دا هم کفايت کوي چې تجارت ته په قرآنکريم کې د الله تعالی فضل ويل شوی دی ، الله سبحانه وتعالی فرمايي :[وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِن فَضْلِ اللَّهِ] (مزمل ٢٠).

ژباړه : او (ځينې) نور د تاسې به سفر کوي (لپاره د تجارت او معاملاتو) په ځمکه کې او لټوي به دوی (رزق) له فضله د الله.

او فرمايي :[فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلاَةُ فَانتَشِرُوا فِي الأَرْضِ وَابْتَغُوا مِن فَضْلِ اللَّهِ] (الجمعه ١٠).

ژباړه :هر کله چې ادا کړ شي لمونځ (د جمعې) نو خواره شئ تاسې په ځمکه کې او ولټوئ تاسې له فضله د الله (د بيع ، تجارت او معاملاتو د پاره خواره شئ).

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :«مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ» (البخاری ٢٠٧٢) .

يعنې : ددې نه ښه روزي بله نشته چې سړی يې پخپل لاس په زحمت سره حاصله کړي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :«طلب كسب الحلال فريضة بعد الفريضة» (رواه البيهقي).

يعنې : حلال کسب لاس ته راوړل د فرضو نه پس فرض دی.

د جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم نه پوښتنه وشو چې کوم کسب پاک دی ؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :

«عمل الرجل بيده و كل بيع مبرور» (خرجه البزار وصححه الحاكم).

يعنې : د سړي د لاس کار او هغه پيرودل او پلورل چې په هغه کې خيانت نه وي.

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :«إن أطيب الكسب، كسب التجار، الذين إذا حدثوا لم يكذبوا، وإذا ائتمنوا لم يخونوا، وإذا وعدوا لم يخلفوا، وإذا اشتروا لم يذموا، وإذا باعوا لم يصروا، وإذا كان عليهم لم يمطلوا، وإذا كان لهم لم يعسروا» (البيهقي، الجامع الصغير السيوطي).

ژباړه:په کسبونو کې غوره کسب تجارت دی ، هغه تجارت چې د خبرو پر مهال دروغ نه وايي ، په امانت کې خيانت نه کوي ، په وعده وفا کوي ، د خپل قرض په ادا کولو کې مشکل نه جوړوي په غوښتولو کې سخت ګير نه وي ، د خرڅولو په وخت کې په صفت کولو کې مبالغه نه کوي (بې ځای صفت نه کوي) ، او د خرڅولو پر مهال د نورو بد نه وايي.

د امين او صادق تجار فضيلت :

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :«التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ»(الترمذي ۱۲۰۹).

يعنى :رښتيا ويونكى او امانتدار تجار به د انبياؤ ، رښتيا ويونكو او شهيدانو سره وي.

او فرمايي : «التَّاجِرُ الأَمِينُ الصَّدُوقُ مع الشُّهَدَاءِ يومَ القيامةِ» (صحيح الترغيب ، ابن ماجه و حاكم).

يعنې : امانتدار او رښتيا ويونكى تجار به د قيامت په ورځ له شهيدانو سره وي.

په تجارت کې د خيانت بد عواقب (پايلې) :

۱- له رفاعه بن رافع رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول صلی الله علیه وسلم فرمايل:«إِنَّ التُجَّارَ يُبعَثُونَ يَومَ القِيَامَةِ فُجَّارًا، إِلَّا مَن اتَّقَى اللَّهَ وَبَرَّ وَصَدَقَ» (الترمذي ۱۲۱۰) (ابن ماجه ۲۱۴۶).

ژباړه : يقيناً تجاران به د قيامت په ورځ فاجران پورته کيږي بغير له هغو تجارانو څخه چې له الله تعالى څخه ويريږي ، ښه عمله او صادق وي.

علامه مباركفوري په شرح د دغه حديث کې وايي : (بغير له هغه چې له الله څخه وويريږي)،يعني : په تجارت کې خيانت ، تقلب او فريب و نه کړي او د خلكو سره په صداقت سره معامله كوي.

په پورته حديث کې د (فاجر) لفظ اكثره شارحينو په درواغو قسمونو باندې تفصيل کړی دی.

۲- همدارنګه له عبدالرحمن بن شبل رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي : «إِنَّ التُّجَّارَ هُمُ الفُجَّارَ ، قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ؟ أَوَ لَيسَ قَد أَحَلَّ اللَّهُ البَيعَ ؟ قَالَ : بَلَى ، وَلِكِنَّهُم يُحَدِّثُونَ فَيَكذِبُونَ ، وَيَحلِفُونَ فَيَأثَمُونَ» (رواه احمد ، حاکم و سلسلة صحیحة).

یعنې : یقیناً تجاران فاجران دي ، چا وویل یا رسول الله ! نو آیا الله تعالی تجارت نه دی حلال کړی ؟ و یې فرمایل :هو (حلال دی) ، مګر هغوی درواغ وایي او په درواغو قسم یادوي ، په همدې وجه هغوی ګناهکار دي.

۳- رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي :«من اشترى ثوبا بعشرة دراهم وفيه درهم حرام لم يقبل الله صلاته ما دام عليه» (رواه أحمد).

ژباړه : څوک چې یو جامه په لس درهم واخلي او په هغه کې یو درهم حرام وي څو چې دغه جامه استعمالوي لمونځ یې نه قبلیږي.

۴- رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي:«يا معشر التجار إن الشيطان والإثم يحضران البيع، فشوبوا بيعكم بالصدقة» (الترمذي۱۲۰۸ حسن صحیح).

ژباړه : ای د تجارو ډلې ! د تجارت سره ګناه او شیطان تړلي دي ، نو ومینځئ تجارت خپل په صدقه سره (زیاته صدقه ورکوئ).

۵- د ابی هریرة رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:«ثَلاثَةٌ لا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ: رَجُلٌ حَلَفَ عَلَى سِلْعَةٍ لَقَدْ أَعْطَى بِهَا أَكْثَرَ مِمَّا أَعْطَى وَهُوَ كَاذِبٌ، وَرَجُلٌ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ كَاذِبَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ لِيَقْتَطِعَ بِهَا مَالَ رَجُلٍ مُسْلِمٍ، وَرَجُلٌ مَنَعَ فَضْلَ مَاءٍ، فَيَقُولُ اللَّهُ: الْيَوْمَ أَمْنَعُكَ فَضْلِي كَمَا مَنَعْتَ فَضْلَ مَا لَمْ تَعْمَلْ يَدَاكَ». (البخاری:۲۳۶۹).

ژباړه:: درې ډلې دي چې د قیامت په ورځ له هغوی سره الله تعالی خبرې نه کوي ، او هغوی ته نظر نه کوي : یو هغه کس چې قسم خوري چې ما خپل تجارتي جنس په دومره قیمت اخیستی حال دا چې حقیقي قیمت یې هغه نه وي او دروغ وایي ، بل هغه سړی چې وروسته له مازدیګر څخه په دروغو قسم کوي تر څو د مسلمان مال پخپل تصرف کې راولي ، بل هغه څوک چې د اضافي اوبو یا عامو اوبو د ورکولو مانع شي ، پس الله تعالی فرمایي : نن ورځ زه تا د خپل فضل څخه محرومومم لکه څنګه چې تا نور د هغه اوبو نه محروم کړی وو چې ستا کسب نه وو.

پس ویلای شو چې تجارت د ټولو کسبونو څخه غوره کسب دی مګر د هغه چا د پاره چې په تجارت کې امانتداره او صادق وي ، بې انصافه ، درواغ ویونکی او فریب ورکوونکی نه وي.

د مسلمان تجار او کاسب آداب

۱- صالح نیت :

تجاره ورورە ! خپل نیت دې د حلال رزق طلب او د حرامو څخه د ځان او اولاد د نجات سبب وګرځوه او خپل دغه عمل د الله تعالی د رضایت وسیله وګرځوه ، صالح نیت ددې سبب کیږي چې د بنده د پاره عادي کارونه هم عبادت وشمېرل شي او بنده د هغه په وسیله الله تعالی ته نږدې شي ځکه په حدیث شریف کې راغلي دي :«إنما الأعمال بالنيات وإنما لكل امرئ ما نوى» (البخاري).

یعنې : د ټولو عملونو قبلېدل په نیت پورې اړه لري ، انسان ته د ده د نیت موافق ثواب او بدله ورکول کیږي.

۲- بازار ته د داخلېدو په وخت کې ذکر کول :

حضرت عمر رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :«من دخل السوق فقال لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، يحيي ويميت، وهو حي لا يموت، بيده الخير، وهو على كل شيء قدير، كتب الله له ألف ألف حسنة، ومحا عنه ألف ألف سيئة، ورفع له ألف ألفدرجة» (رواه الترمذي وابن ماجة. وقال المنذري: (وإسناده حسن متصل ورواته ثقات أثبات، الترغيب والترهيب ۵۱۷/۲، وحسنه العلامة الألباني في صحيح الترغيب والترهيب۳۰۹/۲).

ژباړه : څوک چې بازار ته داخلیږي داسې به وایي :«لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، يحيي ويميت، وهو حي لا يموت، بيده الخير، وهو على كل شيء قدير» ، الله تعالی به ده لره زر زر نیکی ولیکي ، او له ده څخه به زر زر بدی لرې کړي او زر زر درجې به یې لوړې کړي.

۳- په خرڅولو او اخیستلو کې نرمه رویه او سلوک (د سخت ګیري ترک):

مسلمان تجار به په تجارت کې له خلکو سره نرمه رویه کوي.

د جابر رضی الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:«رحم الله رجلاً سمحاً إذا باع وإذا اشترى وإذا اقتضى» (رواه البخاري).

يعنې : الله تعالى دې پر هغه سړي رحم وکړي چې په خرڅولو ، اخيستلو او خپل حق غوښتلو (د قرض په غوښتلو) کې آساني او نرم سلوک کوي.

همدارنګه د ابی هريرة رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي :«إن الله يحب سمح البيع سمح الشراء سمح القضاء» (رواه الترمذي و صحيح الترغيب والترهيب ٣٢٧/٢).

يعنې : الله تعالى هغه خرڅول او اخيستل او حق غوښتل خوښوي چې په هغه کې نرمه رويه او آسانګيري وي.

۴- په معامله کې امانتداري او صداقت :

اصلاً د مسلمان لوی صفت صدق او امانتداري ده مسلمان هيڅکله خاين صفته او غل صفته نشي کيدای مسلمان به په ټولو امورو کې د صدق او امانت خيال کوي ، الله سبحانه وتعالى فرمايي :[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ](التوبة ١١٩).

ژباړه : ای مؤمنان له الله څخه وويرېږئ او له صالحانو خلکو سره ملګري شئ.

او همدارنګه فرمايي:[إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا](الأحزاب الآية ٣٥).

ژباړه :يقيناً مسلمانان نارينه او مسلماناني ښځې ،مؤمنان نارينه او مؤمناني ښځې ، اطاعت کوونکي نارينه او اطاعت کونکی ښځې، رښتني نارينه او رښتنې ښځې، صبر کوونکي نارينه او صبر کوونکې ښځې، تواضع کونکي نارينه او تواضع کونکې ښځې ، خيرات ورکونکي نارينه او خيرات ورکونکې ښځې ، روژه نيونکي نارينه او روژه نيونکې ښځې، پاک لمنه نارينه او پاک لمنې ښځې ، او هغه نارينه چه د الله تعالى ذکر زيات کوي او هغه ښځې چې د الله تعالى ذکر زيات کوي تيار کړی دی الله تعالى دوی (ټولو ته) مغفرت او لوی اجر (جنت) دی.

د ابن مسعود رضی الله عنه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :«إن الصدق يهدي إلى البر وإن البر يهدي إلى الجنة وإن الرجل ليصدق حتى يكتب عند الله صديقاً وإن الكذب يهدي إلى الفجور وإن الفجور يهدي إلى النار وإن والرجل ليكذب حتى يكتب عند الله كذاباً» (رواه البخاري والمسلم).

ژباړه : یقیناً صداقت بنده د نیکۍ طرف ته بیايي او نیکي بنده د جنت طرف ته بیايي تر دې پورې چې رښتیا ویونکی سړی د الله په نزد صدیق ولیکل شي ، او یقیناً چې درواغ سړی د بدو کارونو طرف ته بیايي او بد کارونه سړی د اور طرف ته بیايي تر دې پورې چې درواغ ویونکی سړی د الله په نزد درواجن ولیکل شي.

د مسلمان تجار به اصل مطلب صدق وي ، په حدیث شریف کې راغلي دي چې :«البيِّعان بالخيار ما لم يتفرقا فإن صدقا وبينا بورك لهما في بيعهما وإن كذبا وكتما محق بركة بيعهما» (رواه البخاري).

ژباړه : خرڅونکی او اخیستونکې څو پورې چې یو له بله نه وي جلا شوي د معاملې د فسخې حق لري او زیاته یې کړه : که هغوی رښتیا وواېي او د جنس عیب بیان کړي نو د هغوی په معامله کې به خیر او برکت وي او که د جنس عیب پټ کړي او درواغ وواېي د هغوی معامله به بې برکته وي.

۵- ښه اخلاق :

مسلمان تجار به په معامله کې ښه اخلاق کوي ځکه ښه اخلاق د تجار د پاره د دنیا او آخرت ګټه ده ، د دنیا ګټه یې دا ده چې کوم تجار ښه اخلاق ولري د هغه به ډیر مشتریان وي او ډیر خلک به د هغه سره معامله کوي او د آخرت ګټه یې دا ده لکه څنګه چې په حدیث شریف کې راغلي دي : :«مَامِن شَيءٍ اَثقَلُ فِي مِيزَانِ العَبد المُؤمِنِ يَومَ القَيامَةِ مِن حُسنِ الخُلُقِ وَ اِنَّ اللهَ يُبغِضُ الفَاحِشَ البَذِی» (الترمذی و صحیح الجامع).

ژباړه : د قیامت په ورځ به د مؤمن بنده د پاره بل هیڅ یو عمل بغیر له ښو اخلاقو نه زیات وزمین نه وي ، الله تعالی بیهوده خبرې کونکی او بې حیاء خبرې کونکی بد ګڼي).

تاسې ته به معلومه وي چې د اسلام په شروع کې ډیر خلک د تجارانو د نیک سلوک او ښو اخلاقو په وجه مسلمان شوي دي.

۶- په وزن او اندازه کې عدل کول :

الله سبحانه وتعالی فرمايي :[وَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ] (الأنعام الآية ١٥٢).

ژباړه : او پوره کوئ تاسې پیمانه او تول په عدل او انصاف سره.

او فرمايي: [وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُمْ مَبْعُوثُونَ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ] (المطففين الآيات ٦-١).

ژباړه : هلاکت او تباهي ده کم کوونکو لره هغوی چې له خلکو څه پیمانه کوي نو پوره یې اخلي او چې نورو ته یې پیمانه ورکوي یا یې ورتلي نو کمې پکې کوي آیا په دې باور نلري چې : راپورته به کړای شي یوې لویې ورځې ته په دې ورځ به ټول خلک د رب العالمین په وړاندې ودریږي.

۷- پخپل عهد وفا کول :

[یَا أَیُّهَا الَّذِینَ ءَامَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ] (المائده).

ژباړه : ای مؤمنانو پر خپلو وعدو وفا کوئ.

په وعده وفا کول د مسلمان ستر صفت دی

[وَالَّذِینَ هُمْ لأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ] (المومنون ۸).

ژباړه : او هغه کسان (کامیاب شول) چې دوی د امانتونو او وعدو رعایت کوونکي دي.

د وعدې مخالفت کول د منافقت نښه ده ، په حدیث شریف راغلي دي : عن أبي هريرة، عن النبي صلى الله عليه وسلم قال: «آية المنافق ثلاث: إذا حدث كذب، وإذا وعد أخلف، وإذا اؤتمن خان» (البخاري).

ژباړه : له ابوهریرة نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : د منافق درې نښې دي : چې کله خبرې کوي دروغ وایي ، کله چې وعده وکړي په هغه وفا نه کوي او که امانت ور ته ورسپارل شي په هغه کې خیانت کوي.

۸- د پښېمانه کس څخه په ښه شان خپل مال اخیستل :

که څوک په معامله کې پښېمانه شي نو د هغه څخه په ښه شان او ښه رویه خپل جنس او مال اخیستل په کار دي ځکه چې داسې کول ثواب لري.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :«من أقال مسلماً أقاله الله عثرته يوم القيامة» (رواه أحمد وأبو داود وابن ماجة والحاكم وصححه ووافقه الذهبي).

یعنې : چا چې په ښه شان د مسلمان ورور د هغه د پښېمانتیا په صورت کې معامله فسخه کړه ، الله تعالی به یې د قیامت په ورځ له سختۍ نه وساتي او ګناه به یې لرې کړي.

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم رحم کوونکو ته داسې دعا کړې ده :

«اللهم من رفق بأمتي فارفق به، ومن شق عليهم فشق عليه» (رواه أحمد والمسلم والنسائي).

ژباړه: ای الله ! څوک چې زما د امتیانو سره مهرباني او ترحم کوي ته د هغه سره مهرباني وکړي او څوک چې بده رويه ورسره کوي ته د هغه جزا ورکړې.

۹- د ډيرو قسمونو څخه ډډه کول :

مسلمان تجار به په معاملاتو کې ډير قسمونه نه اخلي که څه په رښتيا سره وي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي: [وَلا تَجْعَلُوا اللَّهَ عُرْضَةً لأَيْمَانِكُمْ أَنْ تَبَرُّوا وَتَتَّقُوا وَتُصْلِحُوا بَيْنَ النَّاسِ] (البقرة ۲۲۴).

ژباړه : او تاسې د الله نوم د خپلو قسمونو لپاره نښه مه ګرځوئ ، چې نيکي به کوئ ، پرهيزکاري به کوئ او د خلکو په مينځ کې به روغه جوړه راولئ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :«إياكم وكثرة الحلف في البيع فإنه ينفق ثم يمحق» (رواه المسلم).

يعنې : په تجارت کې د ډير قسم يادولو څخه پرهيز وکړئ ځکه چې (ډير قسمونه يادول) بيعې ته فائده لري مګر وروسته يې ګټه ختموي يا داسې چې تجارت رواجوي مګر وروسته يې ختموي.

۱۰- د فريب او دوکې څخه ځان ساتل:

ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :«من غشنا فليس مني» (رواه البخاري والمسلم) .

يعنې : څوک چې مونږ ته فريب راکوي له مونږ (زما د امت) څخه نه دی.

۱۱- په مال کې به عيب نه پټوې :

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:«المسلم أخو المسلم ولا يحل لمسلم إذا باع من أخيه بيعاً فيه عيب أن لا يبينه» (رواه أحمد وابن ماجة والطبراني في الكبير،و صحيح الترغيب والترهيب ۳۳۸/۲).

ژباړه : مسلمان د مسلمان ورور دی ، مسلمان ته دا رواه نه ده چې کله يې له مسلمان ورور څخه څه مال اخلي او په هغه کې عيب وي خو دی هغه عيب بيان نه کړي.

۱۲- د حلال رزق د حصول اسباب په نظر کې نيول :

د ډيرو کسانو په ذهن کې دا را ګرځي چې زه څنګه خپل حلال کسب ته پراخي ورکړم او په څه طريقه زما زرق پراخه او د رزق حاصلول آسانه وي د حلال زرق د حاصلولو اسباب په لاندې ډول دي :

الف) :د حلال رزق د اسبابو طلب کې کوښښ کول لکه : زراعت ، تجارت ، صناعت او نور حلال او مباح کسبونه کوم چې الله تعالی د انسان د پاره مقدر کړي دي ، لقوله سبحانه وتعالی : [هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الأَرْضَ ذَلُولاً فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ] (الملك: ١٥).

ژباړه : الله هغه ذات دی چې : ځمکه يې ستاسې په واک درکړې ده ، نو په کونجونو او څنډو کې يې وګرځئ او د الله روزي وخورئ او بيرته همغه ته مو ورتګ دی.

ب) :د الله تعالی تقوا ، د اسلامي شريعت د احکامو عملي کول او د ناروا کارونو څخه ځان ساتل ، لقوله سبحانه وتعالی :[وَمَنْ يَتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا * وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لا يَحْتَسِبُ] (الطلاق: ٢، ٣).

ژباړه : او څوک چې د الله څخه ووېرېږي (الله) ور ته (د ستونزو څخه) د وتلو لار جوړوي ، او هغه ته د داسې لارې نه رزق ورکوي چې (په خپله) ګمان نه کوي.

مطلب دا چې هر کس د الله تعالی تقوا اختيار کړه هغه ته به مشکلات او سختۍ آسانه کړي او همدارنګه د رزق طلب به ورته آسانه کړي او د داسې لارې به رزق ورکوي چې د ده ګمان نه وي يعنې هغه طرف به يې په پلان کې هيڅ نه وي.

ت) :ډير ډير استغفار کول، لکه څنګه چې الله تعالی د خپل رسول او نبي نوح عليه السلام په اړه داسې فرمايي:[فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا * يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُمْ مِدْرَارًا * وَيُمْدِدْكُمْ بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَلْ لَكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَلْ لَكُمْ أَنْهَارًا](نوح: ٩-١٢).

ژباړه : او ورته مې وويل : له خپل رب څخه بښنه وغواړئ بيشکه چې هغه ډير بښونکی دی ، هغه به په تاسې له پاسه څخه بارانونه ووروي ، په مالونو او ځامنو سره به مو ملاتړ وکړي باغونه به درکړي او ويالې به درته تاندې کړي.

همدارنګه جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :«من لزم الاستغفار جعل الله له من كل هم فرجا ومن كل ضيق مخرجا ورزقه من حيث لا يحتسب» (رواه أبو داود والنسائي وابن ماجه والبيهقي والحاكم وصححه).

يعنې : چا چې پر ځان باندې استغفار کول لازم کړل ، الله تعالی به ده ته د ټولو سختيو او مصيبتونه څخه د وتلو لارې آسانه کړي او د داسې طرف نه به رزق ورکوي چې د ده ګمان نه وي.

ث): یوازې پر الله تعالی باندې توکل کول ، لقوله سبحانه وتعالی : [وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللهِ فَهُوَ حَسْبُهُ](الطلاق: ۳).

ژباړه : او څوک چې پر الله جل جلا له توکل وکړي ده د پاره همدا (الله) کافي دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:«لو أنكم كنتم تَوَكَّلُون على الله حق توكله، لرزقكم كما يرزق الطير تغدو خماصًا وتروح بطانًا» (ابن ماجه ، الترمذی او احمد).

ژباړه : که تاسې پر الله داسې توکل وکړئ چې حق او رښیتنی توکل وي ، نو تاسې ته به داسې زرق درکړي لکه د هوا مرغانو ته یې چې ورکړی دی سهار خالي نسونه او بیګا ډکې ګیدې.

چا چې پر الله تعالی توکل وکړ خپل مطلب او مقصد ته به ورسیږي.

ج): - د رزق د حصول او طلب د پاره دعا کول ځکه چې الله تعالی رزاق ذو القوة المتين دی ، لقوله سبحانه وتعالی :[وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ](غافر: ۶۰).

ژباړه : له ما نه وغواړئ څو ستاسې (غوښتنې) قبولې کړم.

د رزق د طلب د پاره داسې دعاګانې کوئ :

یا رزاق ارزقني وأنت خير الرازقين (ای روزي ورکوونکیه ! ما ته روزې راکړه او ته غوره روزي ورکونکی یې).

اللهم إني اسألك رزقا طيبا واسعا (الله ! زه ستا څخه سوال کوم د حلال او پراخه زرق).

اللهم اكفني بحلالك عن حرامك (ای الله ! زما د پاره حلال رزق کافي ورګرځوې او د حرامو مې ته وساتې.

ح): - د الله تعالی حمد او شکر ځکه په هر نعمت کې چې شکر وي د هغه د زیادت سبب ګرځي ، لقوله سبحانه وتعالی : [وَإِذْ تَأَذَّنَ رَبُّكُمْ لَئِنْ شَكَرْتُمْ لأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ](إبراهيم: ۷).

ژباړه : او هغه وخت را یاد کړئ چې رب مو اعلان وکړ چې که تاسې شکر وکړ نو خامخا به زه لورینه در زیاته او که نا شکري مو وکړه نو زما عذاب ډیر سخت دی.

خبرداری :

انسان په طبیعت کې غنا او مال خوښوي او د فقر نه یې کرکه کیږي ، لکن لږ مال تر ډیر مال نه غوره دی ، او دا چې مال له حلالو او حرامو ډیر جمع شي آخر به د هغه

وارثانو ته پاتې کیږي لکن ځواب به يې دی ورکوي او د ده څخه دا پوښتنه کیږي چې : [من أين اكتسبه وفيم أنفقه] يعنې : مال دې له کومې لارې حاصل کړی ؤ او په څه کې دې لګولی ؤ.

اصلاً د کاميابۍ رزق هغه دی چې حاجت ورباندې رفع شي ، جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

«قد أفلح من أسلم ورزق كفافا وقنعه الله بما آتاه» (رواه أحمد و مسلم و الترمذي و ابن ماجة).

ژباړه : کامياب دی هغه څوک چې ايمان يې راوړ ، او په قدر د ضرورت ورته رزق ورکړ شو او الله تعالی پرې صبر ورکړ.

همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : ليس الغنا عن كثرة العرض و لكن الغنى غنى النفس (متفق عليه) .

يعنې : ډير مال او اسبابو لرل ماداري نه ده. اصل مالداري د زړه غنا ده.

د زيات مال د جمع کولو حرص نه دی په کار ځکه د لږ مال حساب ورکول آسانه دي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي :[بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا*وَالآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَى](الأعلى: ۱۶، ۱۷).

ژباړه : بلکي تاسې خوښوئ ژوند د دنيا (تاسې د دنيا ژوند ته ډيره پاملرنه کوئ) ، حال دا چې اخروي ژوند ډير غوره او تل پاتې دی.

همدارنګه جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:«من كانت الدنيا همه، فرق الله عليه أمره وجعل فقره بين عينيه ولم يأته من الدنيا إلا ما كتب له، ومن كانت الآخرة نيته جمع له أمره وجعل غناه في قلبه وأتته الدنيا وهي راغمة» (ابن ماجه او سلسلة الصحيحة).

ژباړه: څوک چې د دنيا په خيال او غم کې وي ، الله (جل جلا له) د ده کار ده ته تيت کړي او د ده په سترګو کې به فقر ځای کړي او دی به بل څه په لاس را نه وړي مګر څه چې ده ته ليکل شوی وي ، او د هر چا چې نيت آخرت وي ، الله (جل جلا له) به د ده کار جوړ کړي او د هغه زړه به غني وګرځوي او دنيا به د ده طرف ته راځي.

خ) - انفاق فی سبیل الله ، خپل مال د الله تعالی په لاره کې لګول (زکات ، صدقات) ورکول ، ځکه په کوم مال کې چې انفاق وي په هغه کې برکت وي له بلاؤ او آفاتو نه په امن وي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :«مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيهِ، إِلاَّ مَلَكَانِ يَنْزِلاَنِ، فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا» (بخاری: ۱۴۴۲).

يعنې : هره ورځ دوې ملائکې ځمکې ته را کوزيږي. يوه يې وايي : ای الله (جل جلا له) ! ځوک چې ستا په لار کې انفاق کوي هغې ته بدله ورکړي ، او بله يې وايي : ای الله (جل جلا له) ! ځوک چې ستا په لار کې انفاق (خرچ) نه کوي د هغه مال هلاک کړه ، يعنې د هغې مال تلف کړې.

دوهمه برخه

د معاملاتو او تجارت شرعي بنسټونه

د ټولو معاملاتو او په خاص ډول تجارت د پاره شرعي بنسټونه دي که په معاملاتوکې دغه بنسټونه یا ضوابت موجود ؤ صحي دی او که نه وو حرام بلل کیږي چې دا بنسټونه په لاندې ډل دي :

اول بنسټ جنس یا مال او قیمت به حلال وي :

جنس یا مال او همدارنګه د مال قیمت به شرعاً حلال وي حرام به نه وي لکه :

١- د مردار حیوان غوښه حرامه ده تجارت یې حرام دی ، هغه حیوان چې په شرعي طریقه ذبحه شوی نه وي غوښه یې مرداره ده تجارت یې حرام دی.

٢- ټول نشه لرونکي شیان لکه : شراب او نور او ټول د جسم سست او ضعیف کوونکي مضر شیان لکه (کوکونار یا تریاک ، افیون ، هروئین ، جرس او نور) حرام دي تجارت یې هم حرام دی.

د شرابو په لعنت او ګناه کې لس کسان شامل دي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:«لَعَنَ اللَّهُ الْخَمْرَ وَشَارِبَهَا وَسَاقِيَهَا وَبَائِعَهَا وَمُبْتَاعَهَا وَعَاصِرَهَا وَمُعْتَصِرَهَا وَحَامِلَهَا وَالْمَحْمُولَةَ إِلَيْهِ» (ابوداود او سلسلة صحيحة ٢٣٨).

یعنې : الله تعالی لعنت کړی دی په شرابخور ، ساقي (کوم چې د څښلو د پاره شراب برابروي) ، د شرابو خرڅونکی او اخیسونکی، د شرابو جوړونکی او د شرابو نقل کوونکی او حمل کوونکی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :«إن الله إذا حرم شيئا حرم ثمنه» (رواه ابن ابی شبیه ، و صحیح الجامع).

ژباړه : یقیناً الله (جل جلا له) چې د کوم شي د حرمت حکم کړی وي د هغې بیع او تجارت هم حرام دی.

دارنګه د کوکونار او چرسو زراعت او تجارت حرام دی ځکه کوم شی چې حرام وي د هغه تجارت هم حرام دی.

٣- ټول زهرجن او مضر شیان چې شرعاً حرام وي ، تجارت یې هم حرام دی.

٤- د نارینه د پاره د سپینو او سرو زرو او ابریښمي جامې استعمال حرام دی او د داسې ځیزونو تجارت کول هم حرام دی.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي :«حرم لباس الحرير و الذهب على ذكور امّتى و احل لاناثهم» (الترمذي ۱۷۲۰ حسن صحيح).

يعنى : د ابريشمو او سرو زرو استعمال زما د امت په سړيو حرام دى او د ښځو لپاره حلال دى.

۵- د موسيقى ، ګډا او رقص ټول سامانونه حرام تجارت يې حرام دى.

۶- د جاندارو تصويرونه او مجسمې حرام دي تجارت كول يې حرام دي.

۷- د شريعت خلاف فلمونه ، سريالونه او ټول هغه څه چې خلكو ته يې ديني ، اخلاقي او جمسي ضرر رسيږي حرام دي او هر څوک چې د مسلمانانو په مينځ كې فحشاء او منكرات خپروي د فحشاء او منكراتو اسباب واردوي د هغوى د پاره د دردونكي عذاب خبرداریٔ وركړ شوى دى.

لقوله سبحان وتعالى:[إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ] (النور :۱۹).

ژباړه : كوم كسان چه غواړي د مسلمانانو په ډله كې فحشآء خوره كړي شته دغو (كسانو) ته په دنيا او آخرت كې سخت دردوكى عذاب.

همداسې د ښځينه هغه جامې چې د اسلامي شريعت خلاف وي ، تجارت يې حرام دى .

دوهم بنسټ خپل منځي رضامندي :

د معاملاتو دوهم شرعي بنسټ د پېرونكي او پلورنكي تر مينځ خوښي او رضامندي ده په زور او اكراه سره معامله يا اخيستل او خرڅول نه صحي كيږي.

الله سبحانه وتعالى فرمايي:[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلاَّ أَن تَكُونَ تِجَارَةً عَن تَرَاضٍ مِّنكُمْ] (النساء ۲۹).

ژباړه : اى مؤمنانو ! په ناحقه سره خپلې شتمنى په خپلو منځونو كې مه خورئ مګر دا چې تجارت وي چې ستاسې په خوښى سره سر ته ورسيږي.

عن أبي سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ رضي الله عنه قَالَ : قال رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «إِنَّمَا الْبَيْعُ عَنْ تَرَاضٍ» (صحيح ابن ماجه -۲۱۸۵).

يعنې : له ابى سعيد الخدرى رضى الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : بيع به د طرفينو په خوښه تر سره كيږي (كه د كوم طرف خوښه نه وي بيع نه صحي كيږي).

دریم بنسټ د ظلم حرمت

د الله تعالی له طرفه د ټولو پیغمبرانو او آسماني کتابونه د نزول یو هدف په ځمکه کې د عدل قایمول او د ظلم مخنیوی دی :

الله تبارک وتعالی فرمایي :[لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ] (الحدید ۲۵).

ژباړه : یقیناً چې مونږ خپل پیغمبران له خپلو روښانه او څرګندو هدایاتو سره ولیږل او له هغوی سره مو کتاب او تله نازل کړي ؤ تر څو پرخلکو کې عدل قایم شي.

په ظلم او نا حقه سره د هیڅ چا مال اخیستل جایز نه دي :

[وَلا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ](الاعراف ۸۵).

یعنې :خلکو ته د دوی شیان مه کموئ.

و قوله سبحانه و تعالی:[وَلاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ..] (البقره ۱۸۸)

یعنې :په خپلو مینځو کې په ناحقه یو د بل مال مه خورئ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :«کل المسلم علی المسلم حرام دمه وماله وعرضه» (أخرجه المسلم).

یعنې : هر مسلمان ته د بل مسلمان وینه ، مال ، آبرو او عزت حرام دي.

او فرمایي : «لا یحل مال امرئ مسلم إلا عن طیب نفس» (أخرجه أحمد والدارقطني والبیهقي وهو حدیث صحیح).

یعنې : د مسلمان مال حرام دی مګر دا چې هغه اجازه وکړي.

څلورم بنسټ ، دین ، عقل او سر مال ته به ضرر نه وي :

داسې معاملات چې په هغه کې دین ته خطر وي ، مثلاً د لمونځ د ترک سبب ګرځي ، په کوم کفري هیواد کې تجارت کول چې هلته د روژې نیولو څخه منع کوي او یا د دین د نورو احکام د ضایع کېدو خطر وي ، یا د عقل سر او مال خطر وي داسې معاملات او تجارت جایز نه دی.

لقوله سبحانه وتعالی :[رِجَالٌ لَا تُلْهِيهِمْ تِجَارَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَنْ ذِكْرِ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ يَخَافُونَ يَوْمًا تَتَقَلَّبُ فِيهِ الْقُلُوبُ وَالْأَبْصَارُ](سورة النور الآیة ۳۷).

ژباړه : هسې سړي يې ثنا او صفت وايي چې تجارت او راکړه ورکړه يې د الله له يادولو د لمانځه له ودرولو ، د زکات له ورکولو څخه نه بې پروا کوي له هغې ورځې نه ډاريږي چې زړونه پکې اوړي را اوړي او سترګې ردې خيږي.

پنځم : په معاملاتو کې غُرر منع دی :

غُرر داسې بيع ته وايي چې په هغه کې د مال يا نرخ کوم يو مقدار او اندازه نه وي معلومه لکه : د حيوان په ګېډه کې د ځاروي پلورل ، يا په سيند کې ماهيانو خرڅول او يا په هوا کې د مرغان خرڅول او داسې نور.

داسې بيع چې مقدار او نرخ يې نا معلوم وي منع ده ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه څخه منع فرمايلي ده :«نهی عن بيع الغرر » (رواه المسلم).

المعاملات المعاصرة ليکي :

غرر په لاندې دوو شرطونو حرام دی :

۱- که غرر يا اټکل زيات ؤ حرام او که لږ وو نو د بيع د صحت د پاره تاوان نه رسوي ، لکه : په حمام کې غُسل ځکه په دې کې غرر دی په قد او جسم کې فرق وي ټول يو شان اوبه نه مصرفوي بلکې ځينې کمې او ځينې زياتې اوبه مصرفوي.

يا د يوې ورځې او دوو ورځو د پاره د موټر کرايه کول چې په دې کې هم د وزن ، د سپرلۍ د شمير او فاصلې فرق وي.

چې په دې کې هم غُرر شته مګر د آسانۍ د پاره په شريعت کې عفوه دی.

۲- د عامه ضرورت په وجه غُرر عفوه دی، لکه : د پخېدو او رسېدو مخکې د ميوجاتو خرڅول څخه په شريعت کې منع شوې ده مګر که ځينې ميوه جات رسېدلي وي او ځينې نه وي رسېدلې که د باغ مالک د ټولو ميوه جاتو رسېدلو ته انتظار باسي ميوه جات په صحي شکل مارکيټ ته نه رسيږي او له مينځه ځي نو په دې صورت کې هم د ضرورت په وجه جايز دی (المعاملات المالية المعاصرة : ص۷) .

شپږم بنسټ ، عقل او تميز:

د تجارتي معاملې د عقد تړلو لپاره عقل او تميز هم شرط بلل کيږي ، يعنې د ليونې سره د بيع عقد نشي کيدای همدارنګه د داسې ماشوم سره چې په ګټه او تاوان نه پوهيږي تجارتي معامله شرعاً جواز نه لري.

مګر کوم ماشوم چې بلوغ ته نه وي رسيدلی مګر عاقل او په معامله پوه وي د هغه سره معامله کول جايز دي.

أن يكون العاقد عاقلاً أي مميزاً، فلا ينعقد بيع المجنون والصبي غير العاقل.ولا يشترط البلوغ عند الحنفية، فيصح تصرف الصبي المميز (حايشه ابن عابدين).

اوم بنسټ سود حرام دی :

د سود تعريف :

سود په لغت کې زياتوالي او ګټې ته وايي او په شرعي اصطلاح کې سود عبارت له اضافه مال اخيستلو څخه دی چې په مقابل کې يې عوض نه وي په داسې ډول چې معامله د مال په مال سره وي (هدايه ج ٣ ص ٦١).

د سود ډولونه :

سود په دوه ډوله دی :

١- ربا النسيئة (د پور سود).

٢- ربا الفضل (د زيات اخيستلو) سود.

دواړه ډوله حرام سخته هلاکوونکی ګناه ده چه سختې خطرناکې پايلې لری.

١- دپور يا قرض سود :

د پور سود هغه سود دی چه څوک چاته پيسی پور ورکړي له هغه څخه زياتی پيسې واخلي يا د مودې په تيريدلو ګټه ورڅخه اخلی مثلاً يو کس چا ته زر روپۍ نغدې ورکوي يو کال وروسته د هغه څخه يونيم زر روپۍ اخلي.

جاء في الموسوعة الفقهية :

ربا النسيئة: وهو الزيادة التي يأخذها البائع من المشتري مقابل التأجيل كأن يعطيه ألفاً نقداً على أن يرده عليه بعد سنة ألفاً ومائة مثلاً.

دا ډول سود خطرناک ترين سود دی ځکه چې ضرر يې زيات دی.

الله سبحانه وتعالى فرمايي:[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافاً مُضَاعَفَةً وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ] (آل عمران/١٣٠).

ژباړه : ای مؤمنانو ! څو څنده سود مه خورئ له الله څخه وډار شئ کيدای شي چې خلاصون به مو په برخه شي.

په نن عصر کې د بانک سود همدا ډول سود دی چه بانک د قرضدار په مثال وي چه په بانک کی د پیسو جمع کوونکي ته د مودې یا مهلت له مخی ګټه ورکوي او یا خپله بانک نورو ته سودي قرضونه ورکوي او له هغوی څخه په ټاکلې فیصدی ګټه اخلي ، دا همغه د جاهلیت د وخت سود ته ورته سود دی چې په کفري نړۍ کې له همغه وخته په میراث پاتې دی ، له بده مرغه چې اوس په اسلامي امت کې د خرېدلو په درشل کې دی.

مسلمانان باید دې ستر اقتصادی ناولي توفان ته کلک متوجه وي ځکه چې دغه ناولی بازار هم د سړي پانګه له مینځه وړي او هم به په آخرت کې له سخت عذاب سره مخ کیږي.

۲-د زیات اخیستلو سود :

په راکړه ورکړه یا بیع کې سود هغه سود دی چې نغدې روپۍ په نغدو باندې چې جنس یې یو وي مثلاً افغانی په افغانۍ په زیادت سره تبادله شي یا د وزن او پیمانې وړ مال چه له یوه جنس څخه وي په زیادت سره تبادله شي او لاس په لاس نه وی.

جاء في الموسوعة الفقهية : ربا الفضل: وهو بيع النقود بالنقود أو الطعام بالطعام مع الزيادة.

ددې ډول سود د حرمت دلیل لاندې حدیث شریف دی :

عن عُبادَة ِ بنِ الصّامِتِ قَال قَال رسول الله صلي الله عليه وسلم «اَلذَّهَبُ بِاالذّهَبِ وَالفِضّةُ بِاالفِضّةِ وَالبُرُّ بِاالبُرّ وَالشَّعِيرُ بِاالشَّعِرِ وَالثَّمَرُ بِاالثَّمَرِ وَالمِلحُ بِالملحِ مِثلاً بِمِثل ٍ سَوَاءً بِسوَاءٍ يَداً بِيداٍ فَاِذَا ختَلَفَت هذِهِ الاَجنَاس ِ فَبيعُوا كَيفَ شِءتُم اِذاَ كَانَ يداً بِيَدٍ» (رواه المسلم).

ژباړه : له عباده بن صامت رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي : سره زر په سرو زرو ، سپین زر په سپینو زرو ،غنم په عنمو ،وربشې په وربشو، خرما په خرما ،مالګه په مالګه په بدل کی ده – یو شان برابر او لاس په لاس ، اوهر کله چه جنسونه سره مختلف وي نوڅنګه مو چه خوښه وي خرڅوئ ،په شرط ددې چه لاس په لاس وي.

یعنې: هغه مواد چه په جنس کی سره یوشان وی دتول او پیمانې وړ وي زیادت پکې حرام دی او راکړه ورکړه به لاس په لاس وي لکه غنم په غنمو که د یوه لوری غنم خراب هم وی نو زیادت پکې حرام دی.

او که اجناس سره فرق ولري لکه غنم په وربشو نو د دواړو طرفو په خوښه او موافقه زیادت پکی رواه دی ولی مهلت پکی حرام دی لاس په لاس به وي.

د امام ابوحنیفه په نزد علاوه له دغو شپږګونو موادو کوم چه په حدیث شریف کی ذکر شول نور مواد چه د وزن او پیمانې وړ وي له یوه جنسه وي زیادت پکې حرام دی لاس په لاس به وي.

او که د تول او پیمانی وړ هم نه وي په جنس کی هم سره برابر نه وي نو بیا زیادت او مهلت دواړه پکې رواه دي چې د دواړو طرفو په خوښه وي.

په نغدو پیسو کې سود داسې دی چې یو کس بل چا ته سلګون نوټ ورکړي او په مقابل یې له هغه څخه یوسل او لس افغانۍ لسګون نوټونه واخلي دغه لس افغانی زیاتوالی سود دی ځکه د نوټ جنس یو شان دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:«ولا تبیعوا الورِق بالورِق إلاَّ مِثلاً بمِثل...» (رواه البخاري -۲۱۷۷ و مسلم –۱۵۸۴).

ژباړه : سپین زر به په سپینو زرو (نوټونه به په نوټونو) مه تبادله کوئ مګر دا چې یو شان وي او مساوي وي.

د سود سزا :

سود خوړل ډیره لویه ګناه ده الله (جل جلا له) د سود خورو پر وړاندې د جنګ اعلان کړی دی.

فإن الله تعالی یقول:[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آَمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ * فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللهِ وَرَسُولِهِ](البقرة:۲۷۹-۲۷۸).

ژباړه : ای مؤمنانو ! له الله (جل جلا له) نه ووېرېږئ ، که په رښتیا مؤمنان یاست کوم سود مو چې پر خلکو پاتې دی هغه پرېږدئ ، نو که (دا کار) مو و نه کړ (سود خوړل مو پرې نه ښودل) د الله تعالی او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خوا جګړې ته چمتو شئ.

په حدیث شریف کې راغلي دي چې :

«دِرْهَمٌ رِبًا يَأْكُلُهُ الرَّجُلُ وَهُوَ يَعْلَمُ أَشَدُّ مِنْ سِتَّةٍ وَثَلَاثِينَ زَنْيَةً» (رواه أحمد -۲۱۴۵۰، و السلسلة الصحیحة -۱۰۳۳ وقال المنذري والهیثمي : رجاله رجال الصحیح).

يعنې : د سود يو درهم چې كوم څوک خوري او دی وربانديې پوه وي (چې دا سود دی) د ۳۶ زناؤ څخه لويه او سخته ګناه ده.

همدارنګه په بل حديث شريف كې راغلي دي : چې سود خوړل اويا درجې لري كمه درجه يې داسې ده لكه د خپلې مور سره زنا كول

وقال أيضاً:«الرِّبَا سَبْعُونَ حُوبًا أَيْسَرُهَا أَنْ يَنْكِحَ الرَّجُلُ أُمَّهُ» (رواه ابن ماجه -۲۲۷۴، وصححه الألباني في صحيح ابن ماجه ، وقال المنذري : إسناده صحيح أو حسن).

او حال دا چې زنا د قتل نه وروسته لويه ګناه ده :

لقوله سبحانه وتعالى:[وَلا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلا بِالْحَقِّ وَلا يَزْنُونَ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ، يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا] (الفرقان ۶۹-۶۸).

ژباړه : او څوک نه وژني هغه چې حرام كړی الله مګر په حق سره ، او نه كوي زنا او څوک چې دا كار وكړي نو هغه ښكيل شو په ګناه كې دوه چنده به وي هغه لره عذاب په ورځ د قيامت او پروت به وي په هغه عذاب كې سپک شوی.

سود خوړل اصلاً ګټه نه ده بلكې د خپلې پانګې تباهي ده.

لقوله سبحانه وتعالى:[يَمْحَقُ اللَّهُ الرِّبَا وَيُرْبِي الصَّدَقَاتِ وَاللَّهُ لا يُحِبُّ كُلَّ كَفَّارٍ أَثِيمٍ] (البقرة :۲۷۶).

ژباړه : الله سود له مينځه وړي او خيراتونه زياتوي او الله نا شكره ګناهكار نه خوښوي.

د سود په اړه څو مسائل:

پوښتنه : سود خور ته د خور لور په نكاح وركول جايز دي ؟

ځواب:

د سودخور يا كوم بل فاسق څخه د خور ، لور كول باک نه لري جايز دي (كفايت المفتي ج ۱ ص ۳۲۳)

لكن دا چې سود خور ته د خور ، لور په نكاح وركول څه حكم لري ؟ په دې اړه د فتاوى معاصر الاسلام سوال جواب څخه يوې ښځې پوښتنه كړې ده چې زه سودخور سړی د نكاح د پاره قبلولای شم ؟

په ځواب كې داسې ليكي :سود د عظيمو ګناهونو څخه لويه ګناه ده ، سود وركوونكی او اخيستونكی دواړه ملعونين دي ، له بده مرغه چې نن عصر كې په دغه ګناه ډير خلک اخته دي.

که سودخور نصیحت قبول نه کړي او سود ترک نه کړي نو تا لره مو نصیحت دا دی چې هغه د خاوند په توګه مه قبلوه ، لکن که هغه توبه وباسي باک نه لري ، تاسې د هغه سره په صادقانه توبه کې مدد وکړئ.

عربي متن یې داسې دی :

الربا من كبائر الذنوب وآكل الربا وموكله كلاهما ملعونان ، ولهما الإثم نفسه ، فالآكل هو الذي أخذ ممن أقرضه زيادة على ماله ، والموكل هو الذي اقترض ذلك المال.

\وقد وقع كثيرون في هذه المعصية – وللأسف.

ثانياً:

بخصوص تقدم ذلك الرجل لكِ : فإن أمره يختلف باختلاف حاله ، هل تعامله بالربا سيستمر بعد الزواج ؟ أم هو نادم وتائب من ذلك ؟

فإن كان الأول : فلا ننصحك بقبوله زوجاً ؛ لأنه مصر على كبيرة من كبائر الذنوب.

وإن كان حاله الثاني : فلا حرج من قبوله زوجاً ، ويجب إعانته على التوبة الصادقة.والله أعلم

الإسلام سؤال وجواب

د سود خور سره په تجارت کې شراکت جایز دی ؟

ځواب:

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، وبعد.

د سود خور سره په تجارت او سوادګرۍ کې شراکت جایز نه دی که کافر وي یا مسلمان ځکه د بیع او تجارت د صحت یو شرط دا دی چې په معامله کې به سودي لین دین نه وي.

جاء فى الفقه التجار المسلم :

لا يجوز للمسلم أن يساهم في شركات تتعامل بالربا أخذاً وإعطاءً كما هو حال كثير من الشركات المساهمة التي ينص في أنظمتها على أن من موارد الشركة الإقراض والاقتراض بالربا.

والنصوص الشرعية من كتاب الله وسنة رسوله – صلى الله عليه وسلم – صريحة في تحريم الربا تحريماً قاطعاً لا شك فيه. ومن المسلَّم به عند أهل العلم أن فوائد البنوك هي

من الربا المحرم (فقه التجار المسلم ۱۳۱/۱).
و جاء في المعاملات المالية المعاصرة :

هذا وفي حالة توافر شركات مساهمة تسد الحاجة وتلتزم بعدم التعامل بالربا أخذاً وإعطاءً يجب على المسلمين عدم التعامل مع الشركات المساهمة التي تقترض بالربا عند الحاجة وتودع أموالها بفائدة. (المعاملات المالية المعاصرة ص 170.

ژباړه : د مسلمان لپاره جايزه نه ده چې د داسې شرکت سره شريک شي کوم چې تعامل يې په سود سره وي سود اخلي او يا يې ورکوي ، لکه څنګه چې نن عصر د ډيرو شرکتونو همدا حال دی چې معاملات يې په سود دي.سود د قرآن او سنتو په صريحو نصوصو حرام دی او په دې کې څه شک نشته او د اهل علم په نزد بانکي ګټه سود دی.

همدارنګه معاملات المعاصرة ليکي :

دا حال اوس د ډيرو شرکتونو دی کوم چې د ضرورت پر مهال سودي معاملات کوي سود اخلي او يا يې ورکوي ، مسلمانانو لپاره جايز نه ده چې په داسې شرکتونو کې سهم واخلي کوم چې د ضرورت په وخت کې سودي قرض اخلي او يا خپل مالونه د ګټې لپاره هغوی ته سپاري.

و الله سبحانه و تعالی اعلم

د سود خور مال او پيسې په جومات کې لګول جايزدي ؟

سلامونه اونيکې هيلې امابعد که يو څوک په چا خبر وي چې سود خور دی او د سود خورله خوا جومات ته فرش اخيسل شوی وي نو په داسې فرش او جومات کې لمونځ صحيح کيږي او که نه ؟

ځواب:

که چيرې دا ځرګنده شي چې آمد يې ټول د سود څخه دی نو دا مال خبيث دی د خبيث مال لګول په جومات کې جائز نه دی ، په داسې فرش چې په حرامو پيسو اخيستل شوی وي لمونځ کول مکروه دی (کفايت المفتي ج ۳ ص ۱۹۱).

اکل الربا و کاسب الحرام اهدی اليه او اضافة و غالب ماله حرام لا يقبل و لايکل مالم يخبره ان ذالک المال اصله حلال (هنديه ۳۴۳/۵ – کفايت المفتی ج ۹ ص ۱۰۴)

په حديث شريف کې راځي: وَلا يَقْبَلُ اللّٰهُ إِلاَّ الطَّيِّبَ (نه قبلوي الله تعالی مګر يواځې پاک مال)

جاء فی الدرمحتار: اما لو انفق فی ذالک مالاً خبیث و ما لا سببه الخبیث و الطیب فیکره (درالمحتار باب مایفسد الصلاة وما یکره فیها ۱/ ۶۸۵ سعید).

لمونځ نه فاسدوي مګر د لمانځه ثواب کمیږي.

د سود څخه توبه :

الله سبحانه وتعالی خپلو یاغي او سرکشه بنده ګانو ته په ډیره مهربانۍ سره خطاب کوي چې :

[يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَى أَنفُسِهِمْ لاَ تَقْنَطُوا مِن رَّحْمَةِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِيعًا إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ] (الزمر ۵۳)

ژباړه : ای زما بنده ګانو! کومو کسانو چه پر خپلو ځانونو تیری کړی دی د الله له رحمت څخه مه ناهیلي کیږی یقینًا الله ټولی ګناوې ښښي هغه خو ښښونکی اومهربان دی.

مؤمنانو ته یې په توبه کولو حکم کړی دی :

[وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ] (۳۱ النور)

مؤمنانو! تاسی ټول د خپلو ګناهونو نه الله تعالی ته توبه وباسې ددي دپاره چې کامیاب شئ .

الله سبحانه وتعالی د بنده په رجوع او توبه ډیر خوشحالیږي :

وعن أبي حمزةَ أنسِ بنِ مالكٍ الأنصاريّ – خادِمِ رسولِ الله صلى الله عليه وسلم قَالَ : قَالَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم : «للهُ أفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ مِنْ أَحَدِكُمْ سَقَطَ عَلَى بَعِيرِهِ وقد أضلَّهُ في أرضٍ فَلاةٍ» (متفق عليه).

له ابي حمزه انس بن مالک انصاری رضی الله عنه خادم رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي :چه د یوه کس نه په یوه دښته یا صحرا کې خپل اوښ ورک شوی وي او هغه پیدا شي نو دغه کس به څومره خوشحالیږي – بس الله تعالی ددی نه هم زیات د خپل بنده په توبه ویستلو خوشحالیږي.

هغه کسان چې قصداً یا د خطا او ناپوهۍ له وجې سود خوري یا سود ورکوي د الله سبحانه وتعالی څخه دې ووېریږي په دې لړ ګټه باندې خپله پانګه مه بربادوئ او په دې لړه ګټه باندې آخرت مه بربادوئ ځکه د سود خورو د پاره ډیر سخت عذاب دی.

نور توبه وباسئ او د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې له جنګ کولو څخه لاس واخلئ ، اي عاجزه بنده ! د الله تعالی نیول ډیر سخت دي.

توبه او د سود څخه خلاصون :

کله مو چې د سود څخه په کلکه صادقانه توبه وېستله څپله اصلي پانګه مو واخلئ او سود يې مه اخلئ.

کچېرې مو مخکې سود خوړلى وي د سود د ګناه څخه د خلاصون په نيت نه د صدقې په نيت به هغه پر مسکينانو او فقيرانو وويشي.

لا يجوز لك بأي حال امتلاك الفوائد الربوية، والانتفاع بها على أي وجه من الوجوه، ويجب الإسراع في التخلص منها وصرفها إلى مصالح المسلمين المختلفة، وليس لك ثواب الصدقة في ذلك، وإنما تثاب من ناحيتين أخريين:

الأولى : التخلص من المال الحرام، والقذف به بعيداً عنك، ليبقى مالك حلالاً طاهراً، وحياتك منزهة عن هذا الحرام.

الثانية: أنك بهذا الفعل كنت وسيطاً في نقل المال " الفوائد الربوية " من المصرف (البنك) إلى جيوب الفقراء، خاصة إذا كان المصرف يتولاه جهة غير مسلمة، فبهذا تكون قد ساهمت في انتزاع هذا المال من أيدي غير مسلمة وجعلها في قبضة مصالح المسلمين.

(المجلس الاسلامى لأفتاء – فتاوي البلدالحرام)

(ستا لپاره په هيڅ صورت روا نه ده چې د سود ګټه واخلې او د هغه څخه په کومه طريقه استفاده وکړې ، پر تا واجبه ده چې هغه د ګناه څخه د خلاصون په نيت د مسلمانانو په مصالحو ولګوې په دې کې تا ته د صدقې ثواب نشته بلکې دوه مقصده دي :

اول : د حرام مال څخه خلاصون او د حلال مال پاتې کېدل.

دوهم : د سودي بانک د ګټې پر ځاى د فقيرانو جيبونو ته د ګټې انتقال).

جاء في "الموسوعة الفقهية" (٢٣/٢٤٨) :

" المال الحرام كالمأخوذ غضبا أو سرقة أو رشوة أو ربا أو نحو ذلك ليس مملوكا لمن هو بيده , فلا تجب عليه زكاته ; لأن الزكاة تمليك , وغير المالك لا يكون منه تمليك ; ولأن الزكاة تطهر المزكي وتطهر المال المزكى لقوله تعالى : (خذ من أموالهم صدقة تطهرهم وتزكيهم بها) وقال النبي صلى الله عليه وسلم: (لا يقبل الله صدقة من غلول).

والمال الحرام كله خبث لا يطهر.

والواجب في المال الحرام رده إلى أصحابه إن أمكن معرفتهم وإلا وجب إخراجه كله عن ملكه على سبيل التخلص منه لا على سبيل التصدق به , وهذا متفق عليه بين أصحاب المذاهب".

(حرام مال لکه غصب ، سود ، رشوت او نور د چا ملکیت نشي کیدای او په هغه کې زکات واجب نه دی ځکه زکات په هغه څه کې واجب وي چې څه د چا په ملکیت کې وي ، ځکه زکات د زکات ورکونکي د پاره پاکې ده ، الله تعالی فرمايي : د دوی له مالونو څخه صدقه (زکات) واخله څو دوی د هغې (صدقې) له مخې پاک او برکتي کړې.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي :الله د خبیث مال صدقه نه قبلوي.

نو واجب دی چې حرام مال به سرې د هغوی څښتنانو ته وسپاري کچېرې د هغوی پېژندل ممکن وي او که ممکن نه وي نو د حرام مال څخه د خلاصون په نیت نه د صدقې په نیت به دغه مال په مستحقو کسان وویشي دا قول د مذاهبو تر مینځ متفق علیه دی.

او که مو توبه ونه ایستله نو بیا د سخت دردونکي عذاب او خطرناکو پایلو لپاره خپل ځانونه چمتو کړئ ، دا دوې ورځې چرچې او عیش به داسې په منده در باندې تېرې شي چې هیڅ به ورباندې پوه نشئ.

لقوله سبحانه وتعالى :

[فَإِنْ يَتُوبُوا يَكُ خَيْرًا لَهُمْ وَإِنْ يَتَوَلَّوْا يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ عَذَابًا أَلِيمًا فِي الدُّنْيَا وَالْآَخِرَةِ وَمَا لَهُمْ فِي الْأَرْضِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ] (التوبة: ٧۴).

ژباړه : (اوس) که دوی توبه وکړي ، دا به دوی ته ښه وي او که مخ واړوي الله (جل جلا له) به دوی په دنيا او آخرت کې په دردناک عذاب سره وکړوي او دوی ته به د ځمکې پر مخ نه کوم دوست وي او نه هم مرستندوی.

اوم بنسټ چې د سود د حرمت بحث وو په همدې ځای پای ته ورسید .

آتم بنسټ ، په معاملاتو کې جواري یا قمار حرام دی :

په اسلامي معاملاتو او تجارت کې آتم بنسټ دا دی چې په راکړه ورکړه کې د جواري یا قمار لین دین او معامله حرامه ده.

د جواري یا قمار تعریف :

جواري چې په عربي کې ورته (مَيْسَرة) او (القمار) وايي. میسر په لغت کې ممکن او آساني او په آسانی سره لاس ته راوړلو ته وايي.

قمار د قمر له لفظ څخه اخیستل شوی دی قمر سپوږمی ته وایي ځکه سپوږمی کله وړه او کله لویه وي په قمار کې هم کله ګټه او کله تاوان یعنې برد او باخت وي.

په اصطلاح کې هر هغه معامله که په بازی لګولو، شرط لګولو یا د بخت او اتفاق پر بنا وي چه ګټه او تاوان یې مبهم او نامعلوم وي هغې ته قمار او میسر وایي.

د قمارحرمت :

د اسلام مقدس دین چه سراسر دعدل او انصاف دین دی ، د اقتصادي نظام لپاره هم دخاص حدودو عدل او انصاف دیوه خاص نظام درلودنکی دی .

اسلام داسې ظلم کله رواه ګڼلی شي چه په هغې کې یو کس د غربت له پاسه نور هم غریب پاتې شي او بل کس بغیر له کوم عمل او خواری کښلو نه قاروني خزانه تر لاسه کړي او یا د غریبانو او فقیرانو د جیبونو نه رقم جمع کړ شي او یو کس بغیر له شرعي وجې نه په اتفاقي ډول د هغه مالک جوړ شي.

قمار داسې ظالمانه جرم دی د یو کس په تاوان کې د بل کس ګټه وي.

قمار سخت ناکاره عمل دی چه په قرآنکریم کې په سختو ټکو حرام شوی دی او د شیطان عمل بلل شوی دی.

لقوله سبحانه تعالی:[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ] (۹۰سورة المائدة).

ژباړه : ای مؤمنانو! یقیناً چه شراب او قمار او بتان او غشی(د فال ، دا څلور واړه ټول) پلیت دي له کاره د شیطان څخه دي نو ځان وساتئ تاسې له دې څخه لپاره ددې چه نجات ومومئ.

په پورته آیت شریف کې لاندې ټکو ته اشاره شوې ده :

اول : دې څیزونو ته رجس (ګنده ګي) وفرمائل شوه چه ددې نه باید هر سالم عقل خپله اجتناب وکړي.

دوهم : دا کار د شیطان عمل دی.

دریم: دا چې د شرابو او جواري حرمت دبت پرستی سره جمع کړ شو.

دجاهلیت په زمانه کې د خلکو تر مینځ د قمار کاربار ډیر زیات ؤ ، خلک ددې عمل دومره عاشقان وو چه ډیر کرته به یې خپل بال بچ او خپلې ښځې هم پرې داوه کولې ، کله چې د اسلام سپیڅلی دین مینځ راغی پر یوه ځل یې د قمار ټول ډولونه حرام اعلان کړل.

په دې قسم معاملو کې د بيع مزابنه ،محاقله ،ملامسه ،منابذه او حصاده او نور صورتونه موجود وو ، چې بحث يې وروسته را روان دی .

خو اوس عصر کې د قمار څه ډولونه له پخوا پاتې دي ځيني نور اوس په نويو شکلونو را پيدا شوي دی لکه :

لاټري، بخت حساب او په سربسته ډبليو کې جايزې چه په يوه ډبی کې هيڅ يا کم شی وي او په بل ډبي کې جايزه وي او داسې نور دي.

دلاټری ټکټ اخيستل يا دبخت لپاره ثبت نام خو د خلکو هدف نه وي بلکې هدف يې د جايزې وتل وي.

په دې کې ګټه او توان نامعلوم وي ، د ډيرو خلکو پيسې جمع کيږي او هغه د بخت او اتفاق په ډول بغير له کوم عمل او خواری يو کس ته حواله کيږی چه همدا قمار دی.

د قمار ټول نوي ډولونه مولانا مفتی محمد شفيع صاحب په خپل کتاب جواهر الفقه کې په پوره وضاحت سره جلاجلا بيان کړي دي او همدارنګه د هند د ندوة العلماء دارالعلوم فاضل مولانا مجيب الله ندوی په خپل کتاب اسلامی فقه کې ښه وضاحت ورکړي دي د نور وضاحت لپاره يې هلته وګورئ.

پخوانی ډولونه يې دبازی لګولو او شرط لګولو لکه د آسونو لوبه،کوتربازي او نورې لوبی چه شرط پکې وي.

کل شیء من القمار فهو من الميسر حتی لعب الصبيان بالجو. (ابن کثير ۹۱ ج ۳)

يعنی:هرهغه څيز په قمار کې داخل وي – هغه د ميسر په حکم کې داخل دی چه دماشومانو په غوزانو يا چهارمغزو وغيره باندی د ګټلو پيللو لوبې کوي هغه هم قمار يا جواري ده.

بيمه (Insurance) شرعاً څه حکم لري ؟

پوښتنه: السلام عليکم و رحمة الله و برکاته

زه يوه پوښتنه لرم هغه داسې چې زه په يوه دفتر کې کار کوم او د مؤسيسې کارکوونکي د معاش نه پرته صحي بيمه هم لري چی ميدکل انشورنس ورته وايی (Medical Insurance)د هرکارکوونکي دمياشتني معاش نه يوه اندازه روپی (مثلا ۵۰۰ افغانی) دفتر کټ کوي او دوه چنده دفتر ورسره يوځای کوي (مثلا ۱۰۰۰ افغانی)نو د هرې مياشتې د هر کارمند په سر ۱۵۰۰ افغانی د بيمې يو شرکت ته ورکوي نو هرکله چی کوم کارمند

مریض شي او یا دوا واخلي نو د دغه مصارفو بیلونه دغه د بیمی شرکت ته استوي او هغه ورته د بیلونو روپۍ ورکوي.

نو په نتیجه کې کیدای شي یو کارمند د خپلې کاري مودې په دوران کې تر هغې زیاتې روپۍ د بیمې د شرکت نه واخلي کومې چی دده د وجې نه دبیمې شرکت ته ورکړل شوی دي او یا هم کمې واخلي (مثلا د لسو میاشتو په موده کی ۱۵۰۰۰ افغانۍ د بیمې شرکت ته د یوه کارمند له وجې ورکول کیږي خو په دی موده کې کیدایشي یو کارمند د ۲۰۰۰۰ شلو زرو بیل د بیمې شرکت ته واستوي او روپۍ واخلي اویا دکمو روپیو اویاپې بیخي وانه خلي داد یوه کارمند په مریضۍ او دهغو په مصارفو پورې اړه لري)نو نتیجه داده کارمند که لږ روپۍ واخستلې که ډیرې د بیلو په مقابل کې او هغه باقي روپۍ د شرکت شوې که یی لږ واخستی او که ډیرې هغه به شرکت ورکوي.

نو هیله لرم چی داسلامي اصلو او اساساتو په رڼاکې مونږ ته دا واضح کړئ چی دامعامله صحیح ده او کنه او د کومو دلائلو په بنیاد او یا په نورو اسلامي هیوادونو کې د دارنګه معاملاتو سره کوم نوعه چلند کیږي.

ستاسو د تفصیلي او مدلل جواب په هیله.په احترام. بلال له کابل نه.

ځواب:

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه، وبعد.

بیمه هغه که د ژوند وي ، درملنې وي یا د څیزونو د ذمه وارۍ بیمه وي حرامه ده ځکه چې دا ډول معاملات په سود ، قمار او دوکې باندې مشتمل وي.

مفتي مولانا کفایت الله دهلوي رحمه الله په اړه لیکي :

د ژوند په بیمه کې سود او توکه ده ځکه که د قسطونو ادا کول ودریږي نو مخکې ادا شوي قسطونه له مینځه ځي او ډوبیږي.

د څیزونو بیمه کول ځکه نا جایز دي چه په دې کې د قمار معامله مینځته راځي.

او د ذمه وارۍ بیمه د نا جایز والی وجه هم قمار دی – حاصل دا چې د بیمې کار او بار په سود ، قمار او دوکې باندې مشتمل دی چې دا ټول حرام دي، لقوله سبحانه تعالى: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ] (۹۰سورة المائدة).

[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تَأْكُلُواْ الرِّبَا أَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً وَاتَّقُواْ اللّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ] (ال عمران ۱۳۰).

(کفایت المفتي ج ۸ ص ۶۲).

د مکې مکرمې د علمي څېړنو او افتا دايمي ټولنه ليکي :

ژباړه : بيمه (Insurance) په دې معنی ده چې يو کس هره مياشت يا هر کال د بيمې شرکت ته څه مبلغ ورکوي او د هغه په مقابل کې شرکت دا ضمانت او تعهد کوي چې هر کله څه حادثه مينځته راشي دغه شخص ته به د هغه خساره ور کوي.

په هر حال کې بيمه ور کوونکی د ضرر او تاوان په حال کې وي مګر د بيمې شرکت کله توان کوي او کله ګټه نو هغه معامله چې هميشه د برد باخت په حال کې وي قمار بلل کيږي.

د بيمې ټول هغه ډولونه چې پکې ګټه او تاوان ، د حادثې محل او مقدار مبهم او نا معلوم وي حرام دي په دليل ددې حديث شريف ابوهريره رضی الله عنه روايت کوي:ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ : «نَهَي عَنْ بَيْعِ الْغَرَر» (مسلم (۱۵۱۳).

يعنې: رسول الله صلی الله عليه وسلم د د اسې بيع چې په هغه کې الغرر (نا څرګندوالی) وي منعه فرمايلې ده.

د علمي څېړنو او افتا دايمي ټولنه (مکة المکرمة) (۱۵/ ۳۱۰)

همدارنګه فتاوي علماء البلدالحرام ليکي :

د درملنې بيمه (Medical Insurance)) د بيمې يو ډول دی چې د اسلام له نظره حرامه ده.

همدارنګه موقع الاسلام السوال جواب يې په اړه ليکي :

له بده مرغه په نورو اسلامې هيوادونو کې هم د کفارو دې نا وړه عمل نفوذ کړی دی ولی علماؤ يې په اړه کلکه مبارزه کړی ده او د هغې په حرمت کې يې ډيرې ليکنې کړی دي.و الله سبحانه وتعالی اعلم

د قمارسزا :

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :«مَنْ لَعِبَ بالنَّرْدَ شِيرِ فَكَأَنَّماَ صَبَغَ يَدَهُ فِي لَحْمِ خِنْزِيرٍ ودَمِهِ» (أخرجه المسلم).

يعنې : چا چې د نرد شیر (شطرنج) لوبه وکړه هغه داسې دی لکه د خوګ په خوښه او وینه یې چې لاس ککړ کړی وي.

ابی موسی اشعری رضی الله عنه له رسول صلی الله علیه وسلم څخه روایت نقل کړی دی چې هغه فرمایلي دي :«من لعب بالنرد فقد عصی الله ورسوله» (موطاء امام مالک و ابوداود).

یعنې : څوک چې د شطرنج لوبه کوي پس هغه د الله او د هغه د رسول څخه سرغړونه وکړه.

قمار د الله تعالی د ذکر څخه د غافله کېدو ستر سبب بلل کیږي.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:[وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكاً وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى] (طه ۱۲۴).

ژباړه : او څوک چې زما له یادولو مخ واړوي د هغه لپاره به په دنیا کې تنګ ژوند وي او د قیامت په ورځ به یې ړوند را پاڅوو.

د قماربار سزا تعزیر دی د مسلمانانو امام به هغه ته سزا ټاکي.

جاء في موسوعة الفقهية :

على وليّ الأمر العمل على منع المعاصي، ومنها الميسر، وعليه تعزير من ثبت عليه ذلك، لأنّ التّعزير إنّما يكون في كلّ معصية لا حدّ فيها، ولا كفّارة.

د قمار څخه ګټلی مال خبیث او مردار دی ، د خبیث مال څخه د خلاصون لاره دا ده چې هغه به خپلو مالکانو ته سپارې که دا امکان ونه لري د ګناه څخه د خلاصون په نیت به هغه پر فقیرانو ویشي.

جاء في الموسوعة الفقهية :

ما يكسبه المقامر هو كسب خبيثٌ، وهو من المال الحرام مثل كسب المخادع والمقامر، والواجب في الكسب الخبيث تفريغ الذّمّة منه بردّه إلى أربابه إن علموا وإلّا إلى الفقراء.

نهم بنسټ ، د احتکار حرمت :

د اسلامي معاملاتو او تجارت نهم بنسټ دا دی چې په راکړه ورکړه یا بیع کې احتکار حرام دی.

د احتکار تعریف :

احتکار دې ته وایي چې د قیمتونو دلوړوالي په هیله د خلکو د ضرورت وړ مواد ذخیره کړي او د سختۍ اړتیا او ضرورت څخه سوء استفاده وکړي او هغه پر خلکو باندې په لوړ قیمت و پلوري ،او د هغه ضرر عامو خلکو ورسیږي.

د احتکار حرمت او د هغه ګناه :

احتکار حرام دی او په اړه یې سخت وعید ذکر شوی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:«من احتکر فهو خاطئ» (المسلم).

یعنې: څوک چې احتکار کوي هغه ګناهکار دی.

بل حدیث شریف کې راځي: «من احتكر على المسلمين طعامهم ؛ ضربه الله بالإفلاس والجذام» (ابن ماجه – عمدة التفسیر ١/ ٣٣٤ راوی عمر بن الخطاب باالسناد صحیح).

یعنې: څوک چې پر مسلمانانو باندې د خوراک بندیز او احتکار لګوي ، الله (جل جلاله) به یې د جذام او افلاس په مرضونو ووهي.

وفي المستدرك أنه صلى الله عليه وسلم قال: «المحتكر ملعون»

او په مستدرک کې دا روایت هم راغلی چې محتکر ملعون دی (الله تعالی د رحمت څخه لرې).

په کومو موادو کې احتکار مینځته راځي :

د امام ابو یوسف رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نزد په هر هغو اجناسو کې چې خلکو ته یې ضرر رسیږي احتکار مینځ راځي هغه که د سوخت مواد وي ، لباس وي او حیوانات او غیره.. د اکثرو علماؤ قول همدا دی.

و ذهب أبو يوسف من الحنفيّة إلى أنّ الاحتكار إنما يكون في كلّ ما أضر حبسه، سواء كان في الأقوات أم في غيرها، اعتمادًا على علّة الحكم، وهي الضرر، فكلّ ما سبّب ضررًا فهو احتكار. وهذا أقرب إلى قول مالك. (الفقة الاسلامیة).

احتکار کله مینځه راځي :

احتکار د لاندې دریو شرطونو په صورت کې مینځته راځي.

اول :دا چې د احتکار جنس د هغه د اهل عيال د يو کال مصرف او تکفل نه زيات وي ، ځکه دا جايز دی چې سړي د خپل کور د خرڅ د پاره د يو کال مواد ذخيره کړي.

دوهم :دا چې د احتکار اجناس په دې نيت ذخيره کړي تر څو قيمتونه لوړ شي او بيا يې په ګران قيمت و پلوري ، او د خلکو د سختې اړتيا او ضرورت څخه سوء استفاده وکړي.

دريم :دا چې احتکار هغه وخت مينځته راځي چې کله خلک احتکار شوي اجناس ته اړتيا ولري لکه خوراکي مواد ، د سون مواد ، پوښاک او نور ..... او هغه اجناس چې خلک هغې ته ضرورت نه لري احتکار نه بلل کيږي ځکه خلکو ته يې ضرر نه رسيږي.

ځيني معاصر علماؤ بل شرط هم ور زياتوي چې دا ذخيره کول د اجناسو په نرخ باندې تأثير و نه کړي او په بازار کې د اجناسو قلت را نشي چې دې ډول احتکار ته احتکار قلت وايي :

وفيه يحتكر عدد قليل من المنتجين أو البائعين إنتاج سلعة معينة بحيث يمكنهم التأثير في ارتفاع ثمنها.(مكتبة الاسلامية)

د مطلب خلاصه : هر ډول اجناس چې د نرخونو د لوړوالي په نيت ذخيره شي او خلکو ته يې ضرر رسيږي د ذخيرې په وجه د موادو کموالی او د نرخ جګوالی را مينځته کيږي د احتکار حکم لري، مګر که کوم اجناس خريداري شي او د شدت او ضرر وخت نه وي د بيع او بازار د ښه والی د پاره وساتل شي باک نه لري په شرط ددې چې خلکو ته يې ضرر نه وي په بازار او نرخ څه تأثير ونه لري.

په اوس عصر کې د احتکارنوي ډولونه:

په اوسني اقتصادي بازار کې لاندې درى ډوله عصري او مډرن احتکار رواج لري.

الف) : شرکت قاضبه :

په تجارت کې د دوه يا څو کسانو ګډون ته ويل کيږي ، داسې چې د هر يوه د پانګې اندازه ټاکلې وي او په هماغه اندازه د ګټې ونډه اخلي.

دا ګډون کونکي د يو خاص تجارتي شي د ټولو پيداوارو او توليداتو ونډه او حصې پخپله قبضه کې نيسي او د هغې خريداري کوي او بل چا ته د هغه د پېرودلو حق نه وي ، چې له همدې امله د مربوطه تجارتي شي د توليد حد ، اندازه او د نرخ تعين د هغوی په لاس کې وي او پخپله خوښه د هغه نرخ ټاکي او په دې توګه عام خلک لوټ کوي.

دا که هر ډول مواد وي تیل ، خوراکي مواد او نور ، د احتکار ددې مډرن طریقې په وسیله مارکیټ پخپله قبضه کې نیسي چې په همدې وجه شرکت قابضه بلل کیږي.

ب) ادماج :

دا د تجارتي وحدت یو شکل دی ، ادماج یو کولو یا یو شی په بل شي کې په هر اړخیز توګه مدغم کولو ته ویل کیږي ، داسې چې د احتکار په عرض د وارېداتو او یا تولیداتو د څو شرکتونو مالیکان پخپل مینځ کې تجارتي وحدت قائم کړي په بېلابېل ډول په تجارتي اجناسو کې ونډه نه لري بلکي ټول خپله پانګه سره ګډوي او تجارتي منابع هم یو شان او مشترک وي.

دوی د څو تجارتي اجناسو ولکه پخپل لاس کې نیسي او د هغه په وسیله د مارکیټ او بازار نرخ د هغوی په واک کې وي.

ج) د قیمت وحدت :

د قیمت یوالی داسې چې د څو کمپنیو یا وارېدونکو تجاران په دې باندې متفق شي چې د تجارتي اجناسو نرخ به یو شان ټاکي او د دغه ټاکلي قیمت په ذریعه د مشریانو لوټول کوي چې دا هم د احتکار یوه نوې طریقه ده.

په هر صورت احتکار حرام ګناه کبیره ده ، که په هره طریقه وي او یا په هر څه کې وي.

امام ابو یوسف رحمه الله وايي : کل ما اضر الناس حبسه فهو احتکار. یعنې د هر هغه شي زیرمه کول احتکار دی چې ټولنې او خلکو ته زیان رسوي که څه هم د زرو رایج الوقت سکو او د رختونو زیرمه کول وي ، د امام ابو یوسف قول ته د نړې زیاتره علماؤ ترجیح ورکړې ده.

و بالله توفیق

و صلی الله تعالی علي محمد صلی الله علیه وسلم .

آن لاین اسلامي لارښود

www.dawat610.com